روزل شوي نسل
نیکمرغه افغانستان

هفته نامه
معارف
اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۱۱ ماه ثور سال ۱۳۹۶

# وزارت معارف از ۸ ثور تجلیل به عمل آورد



طی محفل با شکوهی با حضور جلالتمآب دکتر اسدالله حنیف بلخی وزیر معارف در حالی که هیأت رهبری و رؤسای مرکزی وزارت معارف، مسوولان و استادان مکاتب و انستیتوت های این وزارت نیز اشتراک داشتند از هشم ثور تجلیل به عمل آمد.

در نخست محترم وزیر معارف کشور ضمن خوش آمدید مهمانان مراتب تبریکات خود و هیأت رهبری وزارت معارف را برای شاملین محفل و کافۀ ملت آزادی خواه و مجاهد پرور افغانستان تقدیم نموده، اذعان داشتند : اوراق زرین کشور عزیز ما مشهود از آن است که ملت غیور و با شهامت افغانستان با داشتن حس وطن دوستی و آزاد منشی که از نیاکان خویش به ارث گرفته اند هیچگاه استعمار بیگانگان را قبول نکرده و تن به استثمار اجنبی ها نداده اند»

هم چنان محترم دکتر اسدالله حنیف بلخی وزیر معارف کشور یاد آور شدند : هشتم ثور به مثابه روز پیروزی ملت مجاهد پرور افغان علیه بزرگترین قدرت نظامی وقت یعنی اتحاد جماهیر شوروی بود که توانستند آنها را به زانو درآورده و شکست مضحک بدهند.

متعاقباً محترم دکتور محمد شفیق صمیم معین تعلیمات اسلامی، محترم دکتور اسدالله محقق جهانی معین نصاب تعلیمی و تربیه معلم، محترم رحیل محمد فرملی معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی و محترم سردار محمد رحیمی معین سواد آموزی نیز هر کدام به نوبه خود درخصوص موضوع و جهاد مقدس ملت سلحشور افغانستان صحبت های همه جانبه نموده و آنرا نقطۀ عطف شکست کمونیزم در جهان خواندند.

# د پوهاند صدیق الله ریښتین لومړني ښوونځي ته دوه ودانۍ جوړېږي

د ننګرهار مرکز جلاَل آباد ښار د پوهاند صدیق الله رښتین



ښوونځي کې د نجونو او هلکانو لپاره د ۲ جلا ودانیو د جوړېدو چارې پیل شوې.

د یاد ښوونځي د هلکانو ودانۍ د پوهنې وزارت له پرمختیایي بودیجې جوړېږي، چې ۱۹،۳ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي. دا دوه پوړیزه ودانۍ به ۱۶ ټولګي، ۶ تشنابونه، د اوبو څښلو ځاه او نورې اړینې ښوونیزې آسانتیاوې به ولري.

د پوهاند ریښتین ښوونځي د نجونو زده کوونکو لپاره بیا د UN-Habitat هیئتات لخوا د ۹۰۰ زره افغانیو په مالي مرسته نوې ودانۍ جوړېږي، چې لس درسي ټولګي، اداري خونې او نورې آسانتیاوې به ولري.

دواړه ودانۍ به د یوه کاَل په ترخ کې په شاوخوا ۳ جریبه ځمکه کې جوړې شي. د ښوونځيو بنسټ ډبرو د ایښودلو مراسمو کې د ننګرهار والي، د پوهنې ریاست مسوولینو، د ولایتي شورا غړو، د سیمې قومي مشرانو، ښوونکو او زده کوونکو ګډون کړی و.

# ننګرهار کې اهل هنودو ته ځانګړی ښوونځی جوړېږي

په ننګرهار ولایت کې د ۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د اهل هنودو لپاره د ځانګړي ښوونځي د جوړېدو چارې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پیل شوې.

دغه ښوونځي ته د سویډن کمېټې په مالي مرسته نوې ودانۍ جوړېږي، چې ۶ درسي ټولګي، ۳ اداري خونې او نورې اړینې ښوونیزې اسانتیاوې به ولري.

د اهل هنودو د بابای کبیر دغه لومړنی ښوونځی د جلاَل آباد ښار په لومړۍ ناحیه کې موقعیت لري، چې د نوې ودانۍ رغنیزې چارې به یې تر راتلونکو ۸ میاشتو پورې بشپړې شي.

د اهل هنودو کلانتر میرسنګه خوریاڼي د ښوونځي د نوې ودانۍ د چارو له پیل څخه خوښي وښوده او له ټولو هغو سیمه ییزو مسوولینو یې مننه وکړه، چې د دوی اولادونو ته یې په رسمي ډول د ښوونځي د جوړولو چارې پیل کړې.

اوسمهال د اهل هنودو اولادونو ته د دوی په مذهبي درمسال کې د څلورو ښوونکو له لوري زده کړې ورکول کېږي، چې د نوې ودانۍ له جوړېدو سره به ورته د زده کړو خونديی تدریسي چاپېریاَل برابر شي.



د یاد ښوونځي د بنسټ ډبرې ایښودو په تړاو جوړو شویو مراسمو کې د ننګرهار والي محمد ګلاب منګل، د ولایتي شورا غړو، د پوهنې مسوولینو، د اهل هنود استازو او یو شمېر نورو چارواکو برخه لرله.

# بازدید وزیر معارف از مکاتب شهر شبرغان

به سلسله بازدید جلالتمآب دکتر اسدالله حنیف بلخی وزیر معارف کشور از نهاد های تعلیمی ولایات، اینبار از مکاتب ولایت جوزجان دیدن نمودند.

در ابتداء با محترم لطف الله عزیزی والی آن ولایت، اعضای شورای ولایتی و شماری از آمران، مدیران مکاتب، رئیس و مسوولان معارف ولایات سرپل و فاریاب در مقر ولایت جوزجان در پیوند به وضعیت معارف ولایات نامبرده ملاقات و تبادل نظر نمودند که در رابطه به رفع مشکلات و چالش های موجود مکاتب ولایات یادشده به آنان هدایات لازم سپردند. متعاقباً به لیسه های گوهر شاد بیگم شهر شبرغان، مولانا اذنب شبرغانی و تعمیر جدید انستیتوت تخنیکی جوزجان تشریف برده مشکلات و پیشنهادات معلمان و شاگردان را استماع و برای حل آن به مسوولان هدایت دادند و یادآور شدند که « برای بهبود امور مربوطه معارف یک سلسله اصلاحات بنیادی روی دست است. هم چنان محترم وزیر معارف کشور اضافه نمودند: با تطبیق پروژه های حاضر انکشافی مشکل ترمیم میز و چوکی، کار احداث شهرک معلمین، مشکل نبود تعمیر مکتب و کتب درسی در مکاتب این ولایت ان شاء الله حل خواهند شد و زمینه خوبی برای رشد معارف مساعد می گردد.

# افتتاح تعمیر یک باب مکتب در ولایت هرات

تعمیر جدید لیسه ذکور شیخ بهاء الدین عمر جغارگی ولسوالی انجیل ولایت هرات با قطع نوار افتتاح وبه بهره برداری سپرده شد. تعمیر متذکره بصورت پخته و اساسی در یک طبقه به مصرف مجموعی یک میلیون افغانی به کمک مالي موسسه N.R.C اعمار گردیده، که دارای ۶ صنف درسی، دو اتاق اداری، یک اتاق کمپیوتر با سایر ملحقات ضروری می باشد. قا بل یاد اوریست که در لیسه متذکره به تعداد ۱۵۰۰ تن شاگرد موجود بوده که امور آموزش آنها توسط ۴۰ تن استادان به پیش برده میشود، که با اعمار تعمیر مذکور مشکل شاگر دان از ناحیه نبود صنوف درسی مرفوع گردید.

سرمقاله:

# ملي ګټې یوازې دعلم او پوهې په خپرولو خوندي کیدلای شي

دپوهنې وزارت زموږ په ګران هیواد کې دنوي نسل د سالمې ښوونې او روزنې یوازې روزنیز بنسټ په توګه دنده لري چې د هیواد نوی نسل داسې وروزي چې وکولای شي دخپل هیواد،خپلواکۍاو د خاورې تمامیت څخه دفاع وکړي او دخپل هیواد دسمسورتیا او بیا رغولو له لارې د هیواد میلیوني پرګنوته د خدمت جوګه او په نړیواله کچه د داسې یوسیاسي نظام په رامنځته کولو وتوانیږي چې د هیواد ځلوېښت کلنې غمیزې ته دپای ټکی کیږدي او په هیواد کې دپراخو پرګنو ترمنځ، دسولې، ورورولی، انسانیت، اسلامیت او سوله ییز ګډ ژوند شرایط رامنځته کړي او خپل هېواد په نړۍ او سیمه کې دیو آزاد، خپلواک ، بسیا او ګټور دولت او حکومت په توکه نړیوالو ته ور وپیژني.دپوهنې وزارت مشري یا دو موخو ته د رسیدو لپاره شپه او ورځ هلې ځلې کوي چې دعلم او پوهې ډیوې بلې وساتي او پلوشې یې دهیواد ګوټ ګوټ ته ورسوي.

هڅې رواني دي چې دهیواد دځوانانو علمي او پوهنیز ځواک سره ملګری کړي څو د هیواد د لوړو ګټو د خوندي کولو په لور د علم او پوهې دپلوشو په خپرولو سره خپل درونډ او له ویاړه ډک مسوولیت د یو دین په توګه تر سره کړي .دپورتنیو هیلو او موخو د رښتیني کولو اوپلي کولو په مقصد دنوي ۱۳۹۶ کال دپیل څخه را پدیخوا پوهنې وزارت په تعلیمي نصاب کره کتنه وکړه او لازم اصلاحات یې په کې رامنځته کړل . دغه راز دهیواد په لرې پرتو او نا امنه سیموکې دنړیوال مشارکت پروګرام پرمټ په زرګونو له ښوونځي څخه پاتې زده کوونکو ته د زده کړې آسانتیا وې برابرې شوي چې له فراغت وروسته به په خلورم او شپږم ټولګیو کې د درسونو د دوام لپاره واستول شي نوموړی پروګرام د هیواد په زیاتو ولایتونو لکه ، هلمند،بادغیس، دایکندي ،غور ، قندهار ،خوست ، نیمروز ، نورستان، پکتیا، پکتیکا، اورزګان او زابل کې په ۴۰ ناامنه ولسوالیو او هغو سیمو کې چې ماشومان ښوونځي ته د رسیدو امکانات نلري خدمتونه وړاندې کوي هدف دادی چې په هیواد کې دمتوازنې ښوونې اوروزنې آسانتیا وې برابرې او په هیواد کې دپوهې رڼا خپره او د هیواد وګړي او ځوان نسل وکړای شي دخپل هیواد دبرخلیک په ټاکلوکې په علمي او شعوري توګه برخه واخلي او دجهل او ناپوهی ټغر چې ترې بل ستر دښمن نشته ټول کړي او دپوهې او علم په لاسته راوړلو ځواک پیا وړی او دخپل هیواد د آبادولو او سمسورولو امکانات تر لاسه کړي اوپه تورو تیاروکې دبري په لورد رڼا لاره پرانیزي ځکه چې عامه ګټې دعلم او پوهی له خپرولو پرته نشي خوندی کیدای.

# د پوهنې لپاره د نړیوال ګډون پروګرام هلمند کې د پام وړ لاسته راوړنې لري

د افغانستان سوېل لویدځ هلمند، چې تر ډېره د ناامنیو راپورنه ترې راځي، له ګڼو ناخوالو، ستونزو اوناامنیو سره سره پکې د علم او پوهې ډیوه هم بله ساتل شوې او زرګونه ماشومان او ځوانان یې په رسمي ښوونځیو، سواد زده کړې مرکزونو او محلي او چټکو زده کړو ټولګیو کې پر زده کړو بوخت دي.هلمند کې که څه هم، چې د ځینو نورو ولایتونو پر نسبت د ناامنیو او یو شمېر نورو ستونزو له امله د ښوونیزو خدمتونو رسول ټکني دي، خو د پوهنې وزارت اړوند د پوهنې لپاره د نړیوال ګډون پروګرام (GPE) ددې ولایت یو ډېر شمېر لرې پرتو او ناامنو سیمو ته ښوونیز او روزنیز خدمتونه رسولي دي.د پوهنې لپاره د نړیوال ګډون پروګرام د خپلو ښوونیزو خدمتونو د پراختیا په لړ کې په لومړي ځل د هلمند تریخ ناور ته د علم او پوهې روښنایي ورسوله. تریخ ناور ددې ولایت د مارجې او بارکزو ناوې ترمنځ پراخه پرته سیمه ده، چې سلګونه کلي پکې له پخواني شوروي اتحاد سره تر جهاد وروسته د چم ګاونډ ولایتونو د بې کوره خلکو د سرپنا او کروندو لپاره آباد شول، خو اوسېدونکو یې له تېرو دوه نیمو لسیزو راهیسې د ژوند لومړنیو اسانتیاو ته لاسرسی ونه موند.

اوس په لومړي ځل د پوهنې وزارت اړوند د پوهنې لپاره د نړیوال ګډون پروګرام (GPE) چې په تریخ ناور کې به همدغه ټولګي په ښوونځیو بدل شي او د سیمې سلګونه زده کوونکي به اړ نه وي، چې لرې پرتو ښوونځیو ته د زده کړو د ترلاسه کولو لپاره ولاړ شي.د هلمند ولایت د یادو لرې پرتو او محرومو سیمو قومي مشرانو په خپلو سیمو کې د محلي ټولګیو له جوړېدو خورا خوښي وښوده او ددې پروګرام د بریالیتوب لپاره یې د هر ډول مرستې او همکارۍ ژمنه وکړه. دوی په خپلو سیمو کې د پوهنې لپاره د نړیوال ګډون پروګرام د دوام غوښتونکي شول او هیله یې څرګنده کړه، چې نوی روزل شوی نسل به یې د ویر ځپلې ټولنې د دردونو دوا شي.د یاد ولایت په لرې پرتو سیمو کې د نویو ټولګیو د جوړېدو او نویو زده کوونکو د جذب ترڅنګ د پوهنې لپاره د نړیوال ګډون پروګرام ددې ولایت په ناوه، مارجه او ګرمسېر ولسوالیو کې د تېرو دریو کلونو په ترڅ کې زرګونه زده کوونکو ته په محلي او چټکو زده کړو ټولګیو کې د لومړنیو زده کړو آسانتیاوې برابرې کړې دي.په دې وروستیو کې یاد پروګرام د ۱۵۱ محلي او چټکو زده کړو ټولګیو ۴۵۳۴ تنه زده کوونکي، چې څه باندې ۱۰۰۰ تنه یې نجونې دي، تر درې کلنو زده کړو وروسته ددې ولایت په رسمي ښوونځیو کې شامل شول. د محلي او چټکو زده کړو دغه ټولګي د ۱۳۹۲ کاَل د تلې میاشتې پر لومړۍ نېټه د هلمند په یادو ولسوالیو کې جوړ شوي وو. دغو زرګونه زده کوونکو د سیمه ییزو زده کړو د تګلارې پر بنسټ د درې کلنې ښوونیزې دورې تر بشپړېدو وروسته د خپلو سیمو د نږدې رسمي ښوونځیو په څلورم او اووم ټولګیو کې شامل شوي دي.

ددغې محرومي او وروسته پاتې سیمې په ۳۸ کلیو کې د ۳۵۰تنو ماشومانو لپاره د محلي زده کړو ۱۰ ټولګي جوړ کړل. یاد زده کوونکي به تر درې کلنو پورې په دغو ټولګیو کې زده کړې وکړي او وروسته به د سیمې په نږدې ښوونځیو کې د زده کړو د دوام په موخه شامل شي.هڅې دادي، یاد زده کوونکي ټول د هغو لرې پرتو سیمو او کلیو څخه وو، چې سیمې یې له رسمي ښوونځیو شاوخوا ۸ کیلومتره واټن درلود او له همدې امله د زده کړو له ستر الهي نعمت څخه بې برخې پاتې وو.خو دغو لرې پرتو سیمو ته د پوهنې وزارت اړوند د GPE پروګرام په ورتګ سره نه یوازې



یادو محرومو ماشومانو ته په خپل کور کې د زده کړو ښه زمینه برابره شوه، بلکې د محلي ټولګیو تر بشپړېدو وروسته د زده کړو د دوام او یوې ښې راتلونکې په موخه رسمي په ښوونځیو کې هم شامل شول.د پوهنې لپاره د نړیوال ګډون پروګرام دغه راز د یاد ولایت په ناوې ولسوالۍ کې د امام ابو حنیفه (رح) مدرسې او د خرابه علیا ښوونځي د احاطې جوړولو چارې هم پیل کړې دي. د امام ابوحنیفه مدرسې ته د ۲۶۰ مترو په اوږدوالي او د خرابه علیا ښوونځي ته د ۱۶۵ مترو په اوږدوالي د احاطې دېوالونه په پاخه او اساسي ډول د روان ۲۰۱۷ کاَل د جون میاشتې تر پایه جوړېږي، چې لسګونه زده کوونکو ته به د زده کړو خوندي تدریسي چاپېریاَل رامنځ ته کړي.

د ناوې ولسوالۍ ټولو مشرانو ددې پروژو له پیل کېدو تود هرکلی وکړ او د پوهنې مسوولینو ته یې ډاډ ورکړ، چې د پوهنې وزارت له تګلارې سره سم به د روانو پروژو دقیقه څارنه وکړي او چاته به اجازه ورنکړي، چې د یادو پروژو د کارونو پر وړاندې خنډ وګرځي.

د پوهنې لپاره د نړیوال ګډون پروګرام د هلمند په یادو دریو تر پوښښ لاندې ولسوالیو کې ۴۰ د احاطې دېوالونو، تشنابونو او څښاک د اوبو د څاګانو پروژې لري، چې پر ځینو یې له وړاندې کار پیل شوی او ځینې نورې یې د ژر پیل کېدو په حالت کې دي.له دې ور هاخوا هلمند کې د یاد پروګرام ۱۱۷ ښوونکو بیا په یوه نوښتګر پروګرام کې د چاپېریاَل د زرغونتیا او سمسورتیا په موخه پرېکړه کړې، چې په خپلو اړوندو ښوونځیو کې به هر ښوونکی په خپل شخصي لګښت ۲۰ نیالګي کېنوي.یادو ښوونکو له خپلې ژمنې سره سم ددې ولایت په ۳۷ ښوونځیو کې د ۲۳۰۰ نیالګیو د کېنولو لړۍ پیل کړې او په وینا یې، چې روزنه او پالنه به یې هم کوي.د ښوونکو ترڅنګ به د GPE د محلي او چټکو زده کړو ټولګیو زده کوونکي د کېنول شویو نیالګیو اوبه کول د ځان مسوولیت ګڼي او د ښوونځیو اداري به هم د نیالګیو په اوبه کولو کې مرسته او همکاري کوي.د پوهنې لپاره د نړیوال ګډون پروګرام هڅه کوي، چې ددې پروګرام په راتلونکي پړاو کې د هلمند پر ناوې، مارجې او ګرمسېر ولسوالیو سربېره د یاد ولایت نورو



ولسوالیو ته هم خپل ښوونیز خدمتونه پراخ کړي او هڅه به وکړي، چې دلته د ښوونځي عمر هېڅ ماشوم له زده کړو بې برخې پاتې نشي.د پوهنې لپاره د نړیواَل ګډون پروګرام چې اوسمهال د نړۍ په شاوخوا ۶۰ هېوادونو کې ښوونیز خدمتونه ترسره کوي، افغانستان یې په ۲۰۱۱ کاَل کې غړیتوب ترلاسه کړ دی. دې پروګرام په تېرو څلورو کلونو فعالیت کې د خپلو موثرو پروګرامونو د پلي کېدو پرمټ د هېواد په بېلابېلو لرې پرتو او ناامنه سیمو کې له ښوونځیو لرې پاتې زرګونه زده کوونکو ته ښوونیزې اسانتیاوې برابرې کړې دي.

دا پروګرام پر هلمند سربېره د بادغیس، دایکنډي، فراه، غور، قندهار، خوست، نیمروز، نورستان، پکتیا، پکتیکا، اروزګان او زابل په ۴۰ ولسوالیو کې ښوونیز او روزنیز خدمتونه وړاندې کوي.

خلیل ستانکزی

## د معارف ترانه

د انسانانو فضیلت عــــــــــلم و عرفان دی وروڼو
شرف د ځان دی وروڼو
علم یو کان دی په کانونو بــــــــــــــــي بها يې مثال
هر څه چې غواړې فی الحال
پکې موجود پراته اصیل دور مــــــــــرجان دي ورڼو
شرف د ځان دی وروڼو
علــــــم یو باغ دی باثمر تروتـــــــــــــــازه وی مدام
لري تر عمره دوام
خالق ساتلی له زوال او له خـــــــــزان دی وروڼـــــو
شرف د ځان دی وروڼو
پوهه دارو ده د صحت که چا تری نوش کـــــړ یو جام
هغه به تل وي نیک نام
خوند د کباب خوند د شراب ورته حیــــران دی وروڼو
شرف د ځان دی وروڼو
تعریف د علم نه خلاصیږي که څوك سترې کړي ځان
صفت يې ډير دی بی شان
دا څو مثاله نشــــــــــــــر کړي ملنګ جان دي وروڼو
شرف د ځان دی ورونو

رالیږونکی: رساله

## آرزو

یــارب بــوطن هــیچ دگــر جنــگ نباشــد
از راکــت مرمــی دگــر آهنــگ نباشــد
از شــعله بــارود دگــر دود نخیــزد
خورشید وطـن خیـره و کـم رنـگ نباشـد
دلهـای همـه صـاف چـو آئینـه مصـفا
یــارب کــه بآئینــه دل زنــگ نباشــد
پرکینــه و پــر عقــده نباشــد دل فــردی
در خــاطره هــا خدعــه و نیرنــگ نباشــد
قلبــی زغــم و درد دگــر نشــکند هرگــز
در شیشــهٔ نــاموس وطــن ســنگ نباشــد
از وحشــت و دهشــت نبــود هــیچ نشــانی
خلّق کس از ایـن ناحیـه هـا تنـگ نباشـد
یـارب رسـد ایـن قافلـه در منـزل مقصـود
پائیکــه کشــد بــار وطــن لنــگ نباشــد
هر قلب طرب خیز پـر از صـلح و صـفا بـاد
در ناصــیهٔ هــیچکس آژنــگ نباشــد
از علــم و هنــر بــاز شــود راه ترقــی
بی بهره کــس از دانـش و فرهنـگ نباشـد
بیهــوده قبــا و بــدن تــازه جــوانی
در خــون خــود آغشــته و گلرنــگ نباشــد
از جــور و جفــای فلــک گــردش ایــام
از درد و غــم و جــور و جفــا منــگ نباشــد
گریــان نشــود تــازه عــروس از غــم شــوهر
وزغــم پــدری را کمــرش چنــگ نباشــد
کــوهی بخداونــد تــوببر دســت دعــا را
زین پس بوطن شور و شر و جنـگ نباشـد

رالیږونکی: حمید

# زمان مناسب

برای انجام کار درست، زمان همیشه مناسب است.
کسی که دیگران را مغلوب می نماید، بزرگ است؛ کسی که بر خودش غلبه می کند، قادر و توانا است.
کسی که اطمینان نمی کند، هرگز مورد اطمینان نخواهد بود.
کسی که دیگران را می شناسد، خردمند است؛ کسی که خود را می شناسد، نورانی است.
اگر حق با شماست، به خشمگین شدن نیازی نیست؛ و اگر حق با شما نیست، هیچ حقی برای عصبانی بودن یا عصبانی شدن ندارید!
صبوری با خانواده عشق است، صبوری با دیگران احترام است، صبوری با خود اعتماد بـه نفـس اسـت و صـبوری در راه خـدا، ایمان است .
اندیشیدن به گذشته اندوه، و اندیشیدن به آینده هراس می آورد؛ به حال بیاندیش تا لذت را به ارمغان آورد.
در جستجوی قلب زیبا باش نه صورت زیبا؛ زیرا هر آنچه زیباست، همیشه خوب نمی مانـد؛ امـا آنچـه خـوب اسـت، همیشـه زیباست.

ارسالی: عابده

## د علم او شتمنۍ په اړه د حضرت علي (ع) وینا

۱ -علم د انبیاء میراث دی او مال د فرعون او قارون.
۲ -علم د محبوبیت لامل کیږي او مال د دښمنۍ.
۳ -د علم د غلاکولو امکان نه شته خو د مال د غلا کېدو امکان شته.
۴ -علم چې څومره زړیږي نو پخیږي، خو دوخت په تېریدو سره مال خرابیږي.
۵ -د علم خاوندان مهربان بلل کیږي، خو د مال خاوندان کله هم کنجوس شي.
۶ -علم چې څومره لګوئ زیاتیږي، خو مال په لګولو سره کمیږي.
۷ -علم د قیامت په ورځ د نیکمرغی لامل کیږي، خو د مال به پوره حساب کتاب کیږي.
۸ -په علم سره زړه روښانیږي، خو مال کله د زړه د توریدا لامل کیږي.
۹ -علم د تا ساتنه کوي، خو د مال ساتنه ستا پر غاړه ده.
۱۰ -پیغمبر ص له دومره علم سره سره وفرمایل: خدایه ستا د بندګۍ حق مې ادا نه کړ، خو د مال او دولت دکثرت په نتیجه کې فرعون د خدایی دعوه وکړه، ځکه علم تر شتمنۍ غوره دی.

رالیږونکی: اوریا

## سخنان ارزشمند مشاهیر جهان

در جهان تنها دو گروه از مردم هستند که هرگز تغییر نمی‌یابند ،برتـرین خردمنـدان و پسـت‌تـرین بـی‌خـردان. ارنسـت همینگوی
عامل کلیدی تمام موفقیتها عمل کردن است.
دشمنی که صادقانه کینه ورزی کند ترجیح میدهم به دوستی که مخفیانه تحقیرم کند.
وقتی انسان آنقدر ثروتمند شد که بتواند هر چه دلش می‌خواهد بخرد می‌بینند معده‌اش بیمار است و همـه چیـز را هضـم نمی‌کند.
اگر شما به یک مرد آموزش دهید در بهتـرین حالـت تنها به یک مرد آموزش داده‌اید اما اگر به یک زن آموزش دهید به یک نسل آموزش داده‌اید.
شادی را "تقسیم" خوبی را تفهیم" و عشق را تقدیم کن.
در قبول دست های مهربان تردید نکنید گاهی همین دست ها تا آخر عمر برایتان گرم می‌مانند.
چیزی که سرنوشت انسان را می سازد استعدادهایش نیست انتخابهایش است.
حسرت واقعی را آن روزی میخوری که میبینی به اندازه سن و سالت زندگی نکرده ای.
کسی که اعتقاد دارد دیگران باید مشکلاتش را حل کنند همانند کسی است که برای گذر از رودخانه منتظر اسـت تـا آب آن خشک شود.

ارسالی: عبدالنجیب

قهر که می کنید مراقب فاصله ها باشید بعضی ها همین حوالی منتظر جای خالی برای نشستن می‌گردند

## دوکتور فقیرمحمد یعقوبي د پوهنې اته ویشتم وزیر

گل آغا احمدي وردګ

ښاغلي دوکتور فقیرمحمد یعقوبي له ۱۳۵۹ څخه تر ۱۳۶۳ هجري لمریز کال پورې د افغانستان د پوهنې د وزیـر پـه توګـه دنـده اجـرا کړې ده او په داسې مهال د پوهنې وزیر پاتې شوی دی چې په کابل کې د ببرک کارمل په مشرۍ د خلـق دیموکراتیـك جمهـوري



حکومت فعال وو، د افغانستان په زیاترو سیمو کې د شوروي پوځ، د کارمل د حکومت او مجاهدینو تر منځ سختې جګړې رواني وې، د پوهنې نظام له ګڼو ستونزو سـره لاس پـه ګریـوان وو او افغانسـتان د شـوري تـر نظامي یرغل لاندې شپې ورځې تېرولې. ښاغلي دوکتور فقیرمحمد یعقوبي چې د ۱۳۰۹ کال پـه کابـل کـې زیږېدلی، لومړنی او ثانوي زده کړې یې د کابل په اماني لیسه کې تر سره کړې او په ۱۳۲۶ کال تـرې فـارغ شویدی. نوموړي په ۱۳۳۰ کال د کابل پوهنتون د ساینس له پوهنځي څخه لیسانس اخیستی او خپله ماستري او دوکتـورا یـې د ۱۳۳۶ څخه تر ۱۳۴۲ کلونو تر منځ د اتومي فزیك په برخه کې د پخواني شوروي اتحاد په دولتي پوهنتون کې بشپړې کړې دي.
ښاغلي دوکتور فقیرمحمد یعقوبي د ګڼو علمي مقالو لیکوال دی چې په ملي او نړیوالو مطبوعاتو کـې خپـرې شـوې، پـه پښـتو، دري، روسي او انګریزي ژبو یې خبرې کولی شوې او له ۱۳۵۹ څخه یې تر ۱۳۶۲ کال پورې په ۶ نړیوالـو او ګڼـو سـیمه ییـزو کنفرانسـونو کې یې برخه اخیستې، علمي، پوهنیز او کلتوري مسایل یې څېړلي او د افغان پلاوي مشري یې کړې ده.

Weekly Marif Newspaper

۴

Established 2002, Issue No 211, Month May

Ministry of Education Cultural and Social Issue

## تفاهمنامۀ همکاری با وزارت تحصیلات عالی به امضأ رسید

بر مبنای تفاهمنامۀ فی مابین وزارت های معارف و تحصیلات عالی که به امضأ رسید قرار است



وزارت تحصیلات عالی از سال ۱۳۹۶ تا ۱۴۰۰ هجری شمسی به هدف ادامه تحصیلات عالی به ۵۷۵ تن کارمندان بخش های مختلف وزارت معارف که دارای مدرک لیسانس بوده، بورسیه های تحصیلی به درجه ماستری اهدا کند.

این کارمندان در شش رشته تحصیلی (تعلیم و تربیه، انکشاف نصاب تعلیمی، نظارت تعلیمی، پلانگذاری و مدیریت تعلیمی، مدیریت مالی و اقتصاد و اداره و منجمنت) از طریق امتحان تخصصی در هر رشته به طور سالانه ۲۵ تن جذب میشوند، که مصارف آن از بودجه عادی وزارت معارف تمویل می شوند.

در نشست مطبوعاتی که دایر گردیده بود جلالتمآب دکتر اسدالله حنیف بلخی ضمن تشکری از وزارت تحصیلات عالی مبنی بر همکاری های علمی وزارت تحصیلات عالی با وزارت معارف و مؤثریت کاری کارمندان مسلکی و اکادمیک در بهبود و ضعیت تعلیمی و تربیتی و غنا مندی نظام آموزشی کشور، ارتقای متداوم ظرفیت کارمندان را به ویژه در بخش های علمی و مسلکی یک گام به جا دانست اذعان داشتند: وقتی می توان یک نظام معارف قوی ومعیاری داشت که جوابگوی تمام نیازمندی های جامعه باشد، که مسوولان امور بالاخص معلمان آراسته به دانش و فناوری های روز باشند و بتوانند با استفاده از شیوه ها و اسلوب های نوین تدریس نمایند .

متعاقبا وزیر تحصیلات عالی نیز معارف را سنگپایه های پیشرفت و ترقی یک مملکت دانسته و در راستای ارتقای ظرفیت و ادامه تحصیلات کارمندان متقاضی وزارت معارف طبق پلان مطروحه همکاری مستدام داشته باشند.

قابل یاد آوری است که بر اساس تفاهمنامه یاده شده، در این پروگرام رؤسا، آمرین، مدیران، استادان دارالمعلمین ها، دارالعلوم ها و انستیتوت ها، اعضای علمی مرکز ساینس، مؤلفان، آمرین علمی ریاست انکشاف نصاب تعلیمی، معلمان و سرمعلمان مسلکی ورزیده که به انکشاف نصاب تعلیمی توظیف میشوند، اعضای مسلکی نظارت تعلیمی، پلان و مالی بعد از امتحان تخصصی جذب میشوند.

## لوګر کې یوې میرمنې د ملالۍ ښوونځي ته ودانۍ جوړه کړه

د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ د ملالۍ د نجونومنځنې ښوونځي ته د



یوې افغانې مېرمنې فهیمې ګهیځ په شخصي لګښت دویمه ودانۍ جوړه شوه، چې څلور درسي ټولګي او نورې اړوندې ښوونیزې اسانتیاوې لري.

د ملالۍ ښوونځي لومړنۍ دوه پوړېزه ودانۍ هم ۱۱ کاله مخکې د یادې میرمنې له خوا جوړه شوې ده، چې دولس درسي ټولګي، دوه اداري خونې او نور اړین ملحقات لري.

آغلې ګهیځ سربېره پردې چې یاد ښوونځي ته یې دوه ودانۍ جوړې کړې، هر کال ددې ښوونځي له زده کوونکو سره د قرطاسیې او نورو ښوونیزو موادو مرسته هم کوي.

ملالۍ ښوونځي کې دا مهال شاوخوا ۶ سوه نجونې او هلکان زده کړې کوي، چې د ۱۲ تنو ښځینه ښوونکو له لوري زده کړې ورکول کیږي.

د لوګر د پوهنې ریاست د نوموړې د معارف دوستانه خدمتونو ستاینه کړې او ددې ولایت له نورو معارف پروره اوسېدونکو غواړي، چې د ښوونیز نظام د پیاوړتیا او پراختیا په برخه کې هر اړخیزه مرسته او همکاري وکړي.

د لوګر د پوهنې ریاست له معارف سره د مرستو او همکارۍ له امله مېرمن فهیمه ګهیځ په ستاینلیك ستایلې ده.

## افتتاح مرکز آموزش کمپیوتر در لیسه کوچی های ولایت لوگر

برای شاگردان لیسه کوچی های ولایت لوگر مرکز آموزش کمپیوتر مجهز با سیتم انترنت طی محفلی فعال ومورد استفاده شاگردان قرار گرفت. مرکز یاد شده مجهز به ۵۰ باب کمپیوتر های دسکتاپ ، دو پایه کمپیوتر لپ تاب، دو پایه پروجکتور، دولین سرور انترنت، دوپایه سکرین تلویزیون وسایر تجهیزات ضروری می باشد که از طرف ریاست تکنالوژی معلوماتی وزارت معارف جهت آموزش عملی شاگردان لیسه کوچیان در دسترس اداره لیسه متذکره قرار گرفته است. همچنان طبق یک خبر دیگر از طرف محترم سید فرهاد اکبری یکتن از تجار ملی کشور به ارزش ۱۷۵ هزار افغانی چهار پایه میزکلان، ۴۰ پایه چوکی وسایر لوازم به اداره مکتب متذکره مساعدت گردیده است. گفتنی است که درلیسه کوچیان فعلا به تعداد ۶۵۰ تن شاگرد موجود بوده که امور آموزش انها توسط ۸ تن استادان به پیش برده میشود.

## ورکشاپ سه روزۀ حمایت از حقوق بشر پایان یافت

ورکشاپ سه روزه که تحت عنوان حمایت از حقوق بشر به همکاری اداره حمایت از حقوق بشر وزارت محترم عدلیه برای ۴۵ تن از کارمندان وزارت معارف تدویر گردیده بود، پایان یافت.



محترمه نجیبه نورستانی در رابطه به اهمیت برگزاری ورکشاپ یاد شده سخنرانی نموده و راه اندازی همچو ورکشاپ ها را در راستای نهادینه شدن حقوق بشر سازمان ملل متحد و حقوق بشر اسلامی در کشور مؤثر تلقی نمود.

در این ورکشاپ برای اشتراک کننده گان راجع به مفهوم، اهمیت و خصوصیات حقوق بشر، جندر و اهمیت آن در جامعه، اعلامیه حقوق بشر و اعلامیه اسلامی حقوق بشر و مقایسه این دو اعلامیه، مکلفیت دولت در قبال حقوق بشر، معرفی کنوانسیون های حقوق بشر و میکانیزم نظارتی سفارشات سازمان ملل متحد رهنمود های مفید ارائیه گردید.

در پایان محفل برای اشتراک کننده گان ورکشاپ یاد شده تصدیق نامه ها نیز توزیع گردید.

## د سویډن موسسې د پکتیکا ولایت د پوهنې ریاست سره د درسي موادو مرسته وکړه.

د سویډن موسسې د پکتیکا ولایت د پوهنې ریاست سره د درسي موادو مرسته وکړه ، د پکتیکا د پوهنې سرپرست رئیس محمدنسیم واجد د سویډن مؤسسې څخه مننه وکړه چې له دوی سره یې د درسي موادو مرسته وکړه او ترڅنګ یې له نورو موسسو هم غوښتنه وکړه چې د پوهنې د ریاست سره په بېلابېلو برخو کې له ښوونکو او زده کوونکو سره مرستې وکړي.

واجد وویل: په دغه مرسته شویو موادو کې د دفترونو لپاره فرنیچر، الماری، چوکۍ او نور اړین توکي شامل دي، چې د مرکز ښرنې، ساینس دارالمعلمین په شمول د یوسف خیلو، ومنې، ګومل اوسر روضې ولسوالیو په مدیریتونو باندې وویشل شول.

یاده دې وي چې څو اونۍ وړاندې هم د قطر سرې میاشتې له لوري د یاد ولایت د پوهنې ریاست سره د یو شمېر توکو مرسته شوې وه.

## برنامه استعداد به همکاری رادیو چونغر در ولایت بغلان آغازشد

برنامه تحت عنوان استعداد که از طریق اداره محترم رادیو چونغر با هماهنگی ریاست معارف در بین شاگردان معارف ولایت بغلان راه اندازی شد درین برنامه رقابتی سه تن شاگردان معارف برنده شناخته شد که شاگردان برنده از طرف اداره محترم رادیو چونغر تقدیر معنوی واز جانب معارف با اهدای تحسین نامه،مواد درسی وجوایز نقدی مفتخر گردیدند .

محترم غلام محی الدین پیکان حیدری رئیس معارف ولایت بغلان راه اندازی همچو برنامه ها را ابتکار ونو آوری رادیو چونغر در راستای شگوفای استعداد های شاگردان معارف دانسته اظهار نمودند که تدویر همچو برنامه ها از یکسو ارتقای ظرفیت دانش آموزان وازجانب دیگر زحمات ومهارت های میتودیکی ومسلکی استادان مکاتب تبارز وشناسائی می گردد.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان
عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار
خبریال: - محمد اشرف رسولي
- غلام سخي محمدي
کمپوز او ډیزاین بریالی رحمانزی
شمیر: ۵۰۰۰
دیجتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت